# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# یشوع ذمه واری اخلی


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




موسی وفات شوے وو. یشوع ته دا پته وه چې خدائ پاک هغه د بنی اسرائیلو د خیال د پاره خوښ کړو. یشوع له د خپل فوج تیارولو نه مخکښې خپل ځان هم تیارول پکار وو. خدائ پاک عیسی مسیح سره وعده وکړه که چرې بنې اسرائیلیان خلق همېشه د خدائ پاک د کلام فرمانبرداری کوی. نو هغوئ له به په هغه وعده کړے شوې زمکه باندې فتح ورکړی.



او د بنی اسرائیلو وړومبے جنګه به په دې هغه ځائ کښې وی.



بنی اسرائیلیانو هم دا وعده وکړه چې هغوئ د یشوع او د خدائ پاک د کلام همېشه تابعداری کوی. او نوی مشر ډېر په حکمت سره جاسوسان د کنعان ملک ته ولېږل. چې هغوئ د یریحو هغه لوئ ښار مطالعه وکړی.

3



چا د یریحو بادشاه ته ووئیل چې په دې ښار کښې جاسوسان دی. هغهٔ خپل سپاهیان د هغوئ د تلاش د پاره ولېږل. هغوئ د راحب د کور تلاش کول شروع کړل. چرته چې هغه سړی دېره وو. سپاهیانو د هغوئ د کور دروازه په زوره زوره ووهله. راخب هغه سړی زر تر پټ کړل.

4

چې کله هغه سپاهیان واپس لاړل نو راحب د یوې مظبوطې رسۍ په ذریعه باندې په دېوال باندې په حفاظت سره کوز کړل. هغې د جاسوسانو مدد ولې وکړو؟ هغه ځکه چې هغې ته پته وه چې خدائ پاک دوئ سره دے. او هغې غوښتل چې خدائ پاک د هغې ژوند بچ کړی. نو هغه جاسوسان راحب سره او د هغې خاندان سره د بچ کولو وعده وکړه.



5

یریحو ته د رسېدو نه مخکښې بنی اسرائیلو له د کنعان د دریاب نه تېرېدل وو دا په هغه ځائ کښې د کوم ځائ چې خدائ پاک هغوئ سره د ورکولو وعده کړې وه. خو هلته کښې پُل نهٔ وو نو خلق به د دریاب نه څنګه پورې کېدل؟



6

خدائ پاک یشوع له حکم ورکړو چې امامانو له د لوظ صندوق په کوم چې لس حکمونه دی د فوج او خلقو نه مخکښې لاړ شئ. کله چې امامان د دریاب غاړې نه ورسېدل نو خدائ پاک یوه معجزه وکړه. خدائ پاک په اوبو کښې اوچه لار جوړه کړه.



7

هغوئ په حفاظت سره د دریاب نه پورې وتل او د دې نه پس هغوئ دولس غټ کانړی د دریاب په مینځ کښې او دولس کانړی د کنعان په کناره باندې کېښودل. هغوئ دا کانړی د خلقو د یاد ګار د پاره کېښودل چې هغوئ خپلو بچو ته د خدائ پاک د عظیمې مینې او طاقت په باره کښې ووائی.



8



د يريحو دېوالونه ډېر لوئ او
مظبوط وو. چې څنګه يشوع د
حملې کولو د پاره منصوبه
جوړه کړه، نو خدائ پاک هغهٔ
ته ووئيل چې ما د يريحو
فوجيان او بادشاه تا ته په
حواله کړی، او خدائ
پاک به ستاسو د پاره
جنګ وکړی.

9



خدائ پاک
يشوع ته ووئيل چې
په يريحو به څنګه حمله کوې. دا يوه ډېره عجيبه منصوبه
وه. د خدائ پاک خلقو له د هغه ښار نه ګېر چاپېره په شپږ
ورځو کښې د ورځ يو چکر او په اوومه ورځ اووۀ چکره
لګول وو. او د هغوئ د بيګلو اوچتو آوازونو سره به د
ښار دېوالونه ښکته په زمکه راوغوزېږی.

10



يشوع او د هغهٔ فوج هم هغه شان وکړل
لکه څنګه چې ورته خدائ پاک حکم کړے
وو.کېدے شي چې د يريحو خلقو په هغوئ
پورې ټوقې کړی وی. خو په اوومه
ورځ د اووم چکر نه پس امامانو
بيګلې وغږولې نو څنګه چې
خدائ پاک وعده کړې وه...
د يريحو هغه لوئ
لوئ دېوالونه
راوغوزېدل.

11



خو صرف د
راحب د کور دېوالونه راونهٔ غورزېدل.
ځکه چې هغې په کړکی کښې د سرخ رنګ
کپړه راځوړنده کړې وه. د يشوع ملګرو
راحب او د هغې خاندان بچ کړو.
بيا يريحو تباه شو لکه څنګه
چې خدائ پاک حکم کړے وو.

12

بيا يشوع د يريحو ښار ټول سرهٔ زر، سپين او خزانې



د خدائ پاک د خدمت د
پاره وقف کړې. او بيا يې په
هغوئ باندې لعنت ووئيلو څوک
چې دا ښار دوباره آبادوی. نو بيا سمدستی په کنعان
کښې هر چا، څنګه چې يشوع يريحو له شکست
ورکړے وو، واورېدل. نو هغوئ په دې باندې
پوهه شول چې خدائ پاک د خپلو خلقو مل دے.

13

يشوع ذمه واری اخلی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

يشوع ۱- ٦

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

14




13

60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲